


# د ملي ولولو خاوند، هیواد پال او اولس پال شاعر ښاغلی عبدالوهاب سرتیر

## مرکه وال : انجنیر عبدالقادر مسعود

د افغانستان په معاصره شاعرۍ کې زموږ تکړه او خوږ ژبي شاعر ښاغلی عبدالوهاب سرتیر هغه ملي، ټولنیز او ادبي ستېه ده چې د ده د نوم سره زموږ د ادب او فرهنګ مینه وال آشنا دي.

ښاغلی عبدالوهاب سرتیرد حاجي صاحب عبدالغني زوی دی چې پر (۱۳۲۸) لمریزکال د ننګرهار ولایت د سره رود په موسی زیو کلي کې زیږیدلی دی. ده خپلې زده کړې د سید جمال الدین د ښوونې او روځنې په موسسه کې سرته رسولې دي. تر ( ۱۳۵۸) لمریز کال پورې د حبیبیې او استقلال په لیسو کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ښوونکي دنده لرله، او وروسته يې په راديوتلوږيزون کې پر کار پیل وکړ.ده په راديوتلويزون کې د شاعری تر څنګ د خپل کار په موده کې په سلګونو لیکنې ، ګذارشونه، مرکې او ديالوګونه لیکلي دي.سرتیر صاحب همداسې يو شمیرښکلې او په زړه پورې راديويي خپروني هم جوړې کړې دي. دی په راديو تلويزون کې د بلابيلو خپرونو ليکونکي، ويونکي، او چلوونکي و. سرتیر صاحب لکه زموږ نور هیواد وال د جهادي ډلو تپلود خپل منځي جګړو له کبله د جرمني هیواد ته کډوال شو، او له (۱۹۹۳) زيږديز کال راهيسې په جرمني کې د پرديسي ژوند تيروي.

له (۱۳۴۳) لمریز کال راهیسې د ده شعرونه د هیواد په مطبوعاتو کې خپره شوي او خپريږي او ده خپل قلم په دې لاره کې اوچت ساتلی دی.

- ښاغلی ډاکتر صاحب ببرک ارغند چې زموږ دهیواد يونوميالي، او وتلي ژورناليست، نوښتګر او نامتوداستان ليکونکي دی، په خپله يوه ليکنه کې د ښاغلي سرتير د ادبي او فرهنګي شخصيت په اړه داسې کښلي دي:

(جناب عبدالوهاب سرتير را از ساليان پيشين ميشناسم و با آثارگرانبهای شان آشنايی دارم. اگر اشتباه نکنم اولين بار در سال سيزده چهل وهشت بود که با آثار ايشان آشنا گرديدم.

از جناب سرتير افزون بر دفترهای شعر ، مقالات ، گزارشها و مصاحبه های ارزشمندی هم منتشر شده اند . ايشان از برنامه سازان و گوينده گان خوب راديو تلويزون کشور بشمار ميروند. سرتير نام شناخته شده يی در ادبيات پربار ماست . اشعارش بيان گر دردها و نياز های محرومان کشور است . وطندوستی ، شايسته سالاری و خدمت و عشق ورزيدن به انسان جوهر کلامش را ميسازد . سرتير عاشق کشور و مردمش است و اين عشق را با کلام زيبا ، مستحکم و مملو از شور وهلهله بيان ميدارد.)

د ښاغلي عبدالوهاب سرتير چاپ شوي آثار دا دي:

- خیرې ګریوان پر(۱۳۷۷) لمریز کال.

- د کوثر جام پر (۱۳۷۷) لمریز کال.

- د څپو ژبه پر (۱۳۷۸) لمریز کال.

- سوی ډاګ پر (۱۳۸۰) لمریز کال.

- چینه پر (۱۳۸۰) لمریز کال.

- همیاني پر(۱۳۸۰) لمریز کال.

- بڼ پر(۱۳۸۴) لمریز کال.

- غرونه پر (۱۳۸۵) لمریز کال.

- سمندر پر(۱۳۸۸) لمریز کال.

- زاړه زر پر (۲۰۱۰) زیږدیز کال.

او همداسې یو شمیر ناچاپه آثار لري، چې ډیر ژر به چاپ شي.

- ښاغلي عبدالهادي هادي، چې زموږ د هیواد یونوښتګر، خوږ ژبي او با احساسه شاعر او لیکوال دی، د ښاغلي سرتیر د شعر او شاعرۍ په اړه داسې وايي:

(سرتیر صیب له شپیتمو کلونو ، له هغو وختونو چې ګران افغانستان او کابل جان لا نه وو وران، له هغه وخته چې د انسان په جامه کې لیوان زموږ پر ښارونو نه وو راشیوه شوي او له هغه وخته چې زموږ هست و بود لا نه وو تالا شوي، پیژنم او له شعرونو سره یې آشنا یم.سرتیر صیب له موږ نه د وړاندیني نسل شاعر دی او شاعري یې په لږ توپیر زما د عمر همزولې ده.د سرتیر صیب شاعري وطن او وفاق ته د یوه متعهد،د یوې لارې د درلودونکي او د یوه ستر ارمان د پالونکي انسان له زړه نه راوتلې آهنګینې او موزونې ساندې دي چې د خپل نسل د زیاتره شاعرانو تر پنځونو یې زموږ د رواني اوړدې غمیزې ښکاره او روښانه انځورونه ګڼلای شو.

ماته هغه وختونه یاد دي چې موږ تر هوش زیات د جوش زلمکي وو او د سرتیر صیب د شعر ویلو ځانګړي انداز به مو وینه په جوش راوستله او د وطنپالنې جذبې به یې راکې راویښولې. زه په خاص ډول د هغه د مهربانیو او هڅونو مننډوی یم.

سرتیر صیب لکه ښنګه چې خپله په شخصي مراوداتو او راشه درشه کې تصنع او تګي برګي نه پیژني او د ساده او رښتیني پښتون شخصیت ذهنونو ته تداعي کوي همداسې یې شعرونه هم له دومره صمیمیت نه ډک دي چې رسا پر زړونو اغیز کوي.

په افغانستان کې د وروستي نظام تر سقوط او د تنظیم شاهۍ تر پیل لږ دمخه یا وروسته سرتیر صیب هم په اوبلنو سترګو له وطن نه ولیږدیده اوزموږ د مهاجرو له لوی کاروان سره یو ځای شو، ډیر کلونه یې له هڅو نه ووم خبر ، خو په وروستیو کلونو کې یې دا دی

له نیکه مرغه له اروپا نه شرنګیدلی غږ اورم او ورته خوشاله یم چې زموږ دا پاک زړی او صمیمي شاعر لا هم له شعر سره یاري پالي او لا هم تر پخوا په ډیر زوږ او شور د خپل مهاجر زړګي ساندې په خپل رسا غږ تر خپلو مینه والو رسوي.

زه پوهیږم چې د سرتیر صیب او شعر اړیکه آماتوره نه ده بلکه هغه خپل شعر ته ریاضت کوي او همدې ریاضت د هغه شعر ته داسي یوه ښکلا وربښلې چې که څوک د پښتنو په جغرافیه کې د رزمی او حماسي شعر څیړنه کوي نو غواړي که نه غواړي د سرتیر صیب تلپاتو پنځونو ته به تم کیږي.په دې لنډ تنګ وخت کې نه شو کولای د سرتیر صیب په شان یوه لوی شاعر پر شاعري هراړخیزې خبرې وکړو، زه د هغه پر شعر خپلې خبرې بل وخت ته پریږدم او فقط خپل دغه حقدار مشر ته اوږد عمر غواړم او لاسونه لپه کوم چې ښتتن دې یې نه بې شعره کوي.)

- په رښتیا سره چې د ښاغلي سرتیر په شاعرۍ کې ملي ولولې اوجذبې، پاک او سپیڅلي وطني احساسات، بشر دوستي، د انسان او انسانیت سره، د پښتون او پښتنولي سره ژوره مینه او خواخوږي د شاعرانه ملي احساساتو په څپو کې له ورایه راڅرګندیږي، او همداسي د ده په شاعرۍ کې د انساني او اخلاقي موضوګانو نور اړخونه په ډیرو ښکلو انځورونو کې ترسترګو کیږي.

دبیلګې په توګه د ده دابیتونه لولو:

موږه په لوی لاس بربادي راولو

چې کور او کلي ته پردي راولو

خلک غاصب لښکر له خاورې باسي

موږه غاصبین کورته عادي راولو

تاریخي ننګ دی چې د بل په متو

افغانستان ته آزادي راولو

په تاریخي غرور مو لوبې کیږي

نوم ورکوو چې آبادي راولو

****

اویا:

د وطن د مور د پیو بیه ننگ دی

د هیواد له غلیمانو سره جنګ دی

د پښتون مقابله کې امان غواړي

اوریدلی یې چې چا د توري شرنګ دی

****

اویا:

ډیرو جګې کړې لړو بر شملې

یوه نه دي په دې چې غواړي سر شملې

لویړي ګیدړانونه په منډه کي

لوې غواړي عظمت لکه دغر شملې

زه یي د پښتون د سر معراج ګڼم

دغه شان اوچت غواړي نظر شملې

دا وطن که کور د شمله ورو دی

چګې دې وي تل د دې ټبر شملې

****

او یا :

خیاله بدرګه مې کړه جانان ته ځم

سوی په اور ډاګ یمه باران ته ځم

ما له دې وحشي ځنګله وباسه

مینه چې په کې وي بیابان ته ځم

بل چیرته مې ژوند چا سره ونه شو

کور د پلار نیکه افغانستان ته ځم

****

اویا:

موږ د همدې ځانګې ګلونه یو موږ مه بیلوه

لکه دا ستوري سره وروڼه یو موږ مه بیلوه

زموږ په زړو کې د یوې مینې ځراغ بلیږي

د یوې مینې ارمانونه یو موږ مه بیلوه

اوس خو مو دلته اړولي چړې مه راښیه

ټول د یوې زنې خالونه یو موږ مه بیلوه

زمونږ ټولو مراد یو دی چې دیوې بلوو

ګډې زارۍ ګډ تکلونه موږ مه بیلوه

مونږ په خپلو کې ټول عمر سره مینه کړې

دخدای لپاره مین زړونه یو موږ مه بیلوه

زما سرتیرد وطن خاوره څه چې غرونه وایي

موږ د همدغه وطن غرونه یو موږ مه بیلوه

****

او یا :

که سره یو نه شو تبا تبا یو

په ټول جهان کې به رسوا یو

مخ به مو تور وي د ابد لپاره

ټول به نفرین او خندا یو

****

اویا:

ډیوې د شهیدانو په مزار وینې بلیږي

د مینې د وفا او د ایثار وینې بلیږي

توې شوې په دې هره لویشته خاوره زموږ وینې

جندې د سرو غاټولو په بهار وینې بلیږي

دلۍ دلۍ سرونه په وطن مونږه ورکړي

غلیمه چې ړوند نه شي په دې لاره وینې بلیږي

یوازې هدیرو کې په قبرونو نه دې بلې

زمونږ په هر کور او په هربنار وینې بلیږي

سرتیره په تاریخ کې دا لومړی ځل زموږ نه دی

ډیوې په دغه خاوره په تکرار ډیوې بلیږي

****

اویا:

له کومه راغلي دا ورمې چې ځینې وینې څاڅي

اورمه بیا ټپي نعمې چې ځینې وینې څاڅي

دکوم شهید ارمان سینه ده په ګولیو سورې

بار دي د هیلو جنازې چې ځینې وینې څاڅي

باده چلیږه خو په ځنګ له دغې تورې تیارې

له دغه تور ماښام او شپې چې ځینې وینې څاڅي

نن چې په وینو ده لړلې ما به نه ورولې

فضا دښار او میکدې چې ځینې وینې څاڅي

****

او یا :

له ما نه مه پوښتی چې څوک یمه او چا پسې ځم

د رڼا څرک معلوممه په رڼا پسې ځم

پل په پل ستوري د اسمان تعقیبوم هره شپه

زه په دې تورو تورو شپو کې په سبا پسې ځم

ما داغزو د پاسه کړي مزلونه دي ډیر

چې اوس د ګلو د ښایست په تماشا پسې ځم

نیمه خندا یې چې بانه سترګې په ځمکه ګنډي

د هغو ښکلو پښتنو سترګو حیا پسې ځم

چې ماته پته راکولی شي د یار دکوڅې

دا لیونې دی زما مشر زه یې شا پسې ځم

سرتیر له ډلې د رندانو سره ژبه وکړه

چې زه نه په شیخ نه په صوفي او نه ملا پسې ځم

****

اویا:

د بې مالیاره باغ خزان ګل یمه

اخته دمینې په هجران ګل یمه

اوبه رواني زه له تندې مرمه

په باغ کې شین د بیابان ګل یمه

اوریځې راشي خو باران نه اوري

زه د ږلیو او توپان ګل یمه

لکه بې کوره یو غریب مهاجر

په پسرلیو کې تالان ګل یمه

****

اویا:

ماتې د لمر اوښکې په لمنه کې د شپې شولې

ګورې دا تیارې چې په رڼو ستورو رڼې شولې

ورځ یې په خندا شپه په ژړا موړ ته راکړې ده

نه دا چې په شپه کې د خندلو هیلې مړې شولې

هر چا چې خندا او ژړا دواړه زده له لمره کړې

خامې ارادې یې که پخې نه وې پخې شولې

****

اویا:

د ارمونونو په چمن مې چې طوفان ولګید

اور په لمنه کې له ویرې د خزان ولګید

زما د خوار او کړیدلي زړه په غوړو روښان

څراغ په زړه کې د ګلی او د باران ولګید

اسمان یو کاڼی را ګوزار کړخپله سیل ته کیناست

بخت له هر چانه بچاوه زما په ځان ولګید

تقدیر ظالم دی چاته خپله برخه نه ورکوي

داغ د لاله و خو په زړه د ارغوان ولګید

****

اویا:

د وفا په تمه زوړ شوم ما وفا و نه لیده

تګه برګه زمانه ده ما رښتیا ونه لیده

غوړولې توري شپې ده په دنیا خپله لمنه

چې رڼا مو دې تیارې کړي ما رڼا ونه لیده

په ژړا راغلو نړۍ ته په ژړا باروو کډې

زاره چاوده دې کوچو بار کې ما خندا و نه لیده

****

چې تر څو انسان له یو بل کوي کرکه

په لمبو کې به د شخړو سوځي ځمکه

غوړولې به ماتم خپله لمن وي

نیکمرغي به وي د تل لپاره ورکه

****

- سرتیر صاحب په خپلو شعرونو کې خپل خیالونه او آندونه په ډېره روانه او خوږه ژبه انځور کړې دي. د ده په شعرونو کې د پاکې او سپیڅلې مینې راز او نیاز، حسن او جمال د طبیعت د مناظرو ښکلاپه ډېر هنري شکل او انداز سره بیان شوې دي. د بیلګې په توګه د ده دا بیتونه ګورو:

ډالۍ د پاک الله د محبت ده دا نړۍ

د مینې پیرزوینه ده جنت ده دا نړۍ

ښکلا د کایناتو او د ټولو سیارو ده

شین خال په سپیره تنده د خلقت ده دا نړۍ

رڼې چې د هر چا په مینه سترګې وي پوهیږي

مزې دي په دې ځمکه کې لذت ده دا نړۍ

****

او یا:

لړې لړې ژړا لړې ! له خندا سره مې پریږده

موده پس بیا سره ګورو له اشنا سره مې پرېږده

پل پر پل مدام روان وم له بهیره سره د اوښکو

تورې شپې مې زړه خوړلی، له سبا سره مې پرېږده

پیدا کړې خدای مین یم، زړه مې ډک له محبته

دا مې هیله ده، دا غواړم، له ښکلا سره مې پرېږده

****

او یا :

سوزیدل دي کړیدل دي جرمانه زما د مینې

شوه دښمنه لویه خدایه زمانه زما د مینې

بیګاه توله شپه په ویښه د سپوږمۍ رڼا ته ناست وم

ستورو یو بل ته ویله افسانه زما د مینې

بې پنا لکه مجنون شوم د غربت په سوي داګ کې

بیلتانه ظالم لوټلې خزانه زما د مینې

****

او یا :

نوی نغمه ده څنې اچوه ګډیږه راته

په تول وجود درته غوږ غوږ یمه غږیږه راته

چې لږ مې وغوړیږي هیلې د خندا په زړه کې

راته موسکۍ شه راته وخانده غوړیږه راته

د بیلتانه د خونړي ماښام په تور لمن کې

بله ډیوه شه رارروانه شه بلیږه راته

****

او یا :

په تورو سترګو کې دا څه د قیامت لمبې دي

زړه له ایمانه سره وړي د محبت لمبې دي

ستا د ښکلا په تماشا کې که رښتیا ووایم

بلې پر ما باندې چې ګورې هر ساعت لمبې دي

تا ته به څه ښکاري د زلفو سره لوبې زما

کوم له لومو سره عشق د اسارت لمبې دي

نن مې له تا سره وعده ده خو که را نشې ته

د انتظار ترخې شیبې په حقیقت لمبې دي

****

او یا :

ساقي جامونه راکړه خو تدبیر مه راکوه

نقشه زما دلارې او مسیر مه راکوه

مستي غواړم چې لرې شم د عقل له دنیا نه

غوټۍ نورې په ډنډ کې د دې ویر مه راکوه

ستومانه یم ستومانه تمام عمر راسره وو

ساړه ساړه اهونه نور اسیر مه راکوه

****

او یا :

یوازې دا نه چې ساقي یمه پیالې درکوم

زما عادت دی په پیالو کې ولولې درکوم

راشه چې اور درکړم سینې نه دې تنور جوړ کړمه

له سرو سکروټو سره سین سین حوصلې درکوم

غریبي منمه خو همداسې دې سوړ نه غواړمه

د اوربټی زړه کې د ننه زلزلې درکوم

ویده به مړشي له زاړه خیال سره مه ویریږه

نوي خیالونه نوي نوي مرحلې درکوم

****

د سرتیر صاحب د پوره پیژندګلوی لپاره ما د ده سره یو مرکه نیولې ده چې ستاسو د ادب او شعر مینه والو پام ورته را اړوم.

سرتیر صاحب اجازه راکړې خپل سلامونه او پیرزویني ستاسو حضور ته وړاندې کړم، او خپلې پوښتنې پیل کړم.

مننه، زه هم تاسو او ستاسو په وسیله خپل سلامونه او نیکې هیلې ټولو هیوادوالو او د ادب مینانوته وړاندې کوم او ستاسو په خدمت کې یم:

پوښتنه : ستاسې مینه او علاقه د شعر ویلو او لیکلو سره څنګه پیدا شوه، کوم احساس، او چا دې ته وهڅولې، چې باید شعر ولیکئ ؟

ځواب : په تنکی ځوانی کې له ښکلا سره مینې شعر لیکلو ته هڅولې یم.

پوښتنه : د شعر د پیژند (تعریف) په اړه بلابیل لیکوال او ادیبان خپل نظریات لري، یو شمیر وایي: په شعر کې وزن، قافیه، خیال، او اندیشه د شعر ذاتي عناصر دي. ستاسې په آند شعر ته کوم تعریف تاکلې شو.

ځواب : دشعرپه باب ټول تعریفونه او نظریات خپل وزن لري.زه کوم خاص تعریف نه لرم.

پوښتنه : د کوموکلاسیکو او معاصرو شاعرانو شعرونه مو خوښیږي؟ او تاسي له کوم سبک او ادبي ښوونځي څخه پیروي کوئ؟

ځواب : ښه شعرکه په هره زمانه کې هر چا لیکلې او ویلې وي زما خوښیږي.د هیچا د سبک پیرو نه یم، خپله لاره لرم.

پوښتنه : ویل کیږي چې په پرتله د شعر د انساني جذباتو او احساساتو د اظهار لپاره نثر یو ښه او بریالی صنف دی. تاسي په دې اړه څه لید لرئ؟

ځواب : خوندور نثر هم شعر دی، زما په آند د نثر په پرتله د جذباتو اظهار په شعري ژبه ډیر اغیزمن وي.

پوښتنه : تاسي د زوړ او نوي نثر بنسټیزې ځانګړنې څه ډول پرتله کوئ؟

ځواب : زما په آند زوړ نثر څه پیچلې او په مسجع شکل ؤ، خو ننی نثر ساده او ژر د زغم او پوهوي وړ دی.

پوښتنه : ستاسي په آند په پښتو ادب کې، د سلیمان ماکو، میا پیر روښان، خوشحال خان ختک او د منشي احمدجان د نثرونو ادبي ښوونځي د پښتو ژبې د ودې او پرمختګ لپاره څومره اغیز او نقش لوبولی دی؟

ځواب : زه د ادبي سبکونو څیړندوی نه یم. خو په خپل آند وایم چې ټولو ادبي سبکونو او مکتبونو د پښتو ژبې ودې او پرمختګ ته زیاته ګټه رسولې ده.

پوښتنه : په لویدیزو شعرونو کې شعري مبالغې ډیرې کمې لیدل کیږي او شاعران زیاتره عیني او ریښتیني واقعیتونه په خپلو شعرونو کې انځوروي. تاسې په دې اړه څه لید لرئ؟

ځواب : فکر کوم په پرمختللو ټولنو کې ډیر مسایل حل دي، نو ځکه لیکوال یا شاعران هرڅه ړد په ړد بیانوي.مبالغې او کنایاتو ته ضرورت نه پیښیږي، هر څه عیني دي.

پوښتنه : په پښتو ادب کې لکه د دنورو ژبو په ادب کې له ډیرو پخوانیو زمانو څخه اوږدې کیسې او نکلونه شته. دبیلګې په توګه : د آدم خان او درخانۍ او فتح خان بریځ نکلونه ، د مومن خان اوشیرینو داستان او داسې یو شمیر نور ادبي لیکونه. تاسې د دغو کیسو او نکلونو ارزښت د پښتو ادب د ودې او پرمختګ لپاره څه ډول څیړئ او اغیز یې پر خپلو شعرونو څنګه ارزوئ؟

ځواب : دا کیسې او نکلونه د ډیر ارزښت وړ دي، ماهم ځنې کیسې او حکایتونوپه پښتو نظم اړولي دي.

پوښتنه : سپین، نوی او آزاد شعر د کلاسیک شعر سره څه توپیر لري؟ او دا راته وویاست تاسې په خپلو شعرونو کې کوم ډول شعرونو ته زیاتره پاملرنه کړئ ده؟

ځواب : د قافیې او بعضا د مقیدو اوزانو له قیوداتو فارغ کلام سپین شعر دی ما په دواړو کې خپل قلم زغلولی دی.

پوښتنه : پښتو غزل هغه ژانر او صنف دی، چې دعشق او جذباتو سره تړاو لري. تاسې دپښتو غزل اصالت او سنتي ځانګړتیاوې په څه کې وینې؟ آیا په اوسني حالاتو کې دپښتو غزل دنورو ژبو دغزل سره سیالي کولای شي او که نه؟

ځواب :غزل په لغت کې له ښکلو سره مینې ته وایي، چې د شعر په ژبه په رومانتیک ډول بیانیږي. خو نن غزل قیدونه مات کړي او حتی حماسي غزلې هم لیکل کیږي لمن یې پراخه شوې ، بلې پښتو غزل د نورو ژبو د غزل سره سیالي کولای شي.

پوښتنه : پښتولرغونی ادب دحماسو نه ډک تاریخ لري. تاسې په پښتو ادبیاتو کې او په ځانګړي توګه په شعر کې د دغو حماسو اغیزاو ارزښت څه ډول ارزوئ؟

ځواب : ځیني کسان حماسه په شعر کې نه خوښوي، خو زما په آند دپښتو شعر ډول او ګاڼه حماسه ده.د پښتو شعر په حماسه پیل شوې دامیرکروړ بولل ه ښه مثال دی.

پوښتنه : لنډۍ زموږ د هیواد د اولسي ادب یوه مهمه برخه جوړوي او زموږ هیوادوال ورسره ځانګړې مینه او علاقه لري.تاسې په لنډیو کې مفکوره، احساسات، تصویرونه او رزمي برخې څه ډول ارزوې؟

ځواب : زه لنډۍ دپښتو ادب لرغوني او ډیر ارزښت وړې ستنی ګڼم کومو شیانو ته چې تاسو اشاره کړې ده د لنډیو په غنا کې ډیره ونډه لري.

پوښتنه : یو شمیر شاعرانو په خپلو شعرونو کې د متلونو نه چې زموږ د پښتو ادب یوه بډایه زیرمه او شتمني ده هم ګټه پورته کړې ده. د دغو متلونو اغیز په شعرونو کې څه ډول ارزوئ؟ آیا تاسې هم د خپلو شعرونو په لیکنو کې د متلونو نه استفاده کړې ده او که نه؟

ځواب : په شعرونو کې په متلونو اتکاء شعر مستند کوي او زه یې له هر پلوه تایدوم، له ټولو مهمه دا چې د متلونو ژوند اوږد وي.

پوښتنه : ارسطو وایي: (دشاعر وظیفه د اسطورې جوړول دي). ستاسې په آند شعر له اسطورې سره څه تړاو لري، او اسطورې په پښتو شعر کې څه ارزښت او اغیز لري؟

ځواب : د ملي ویاړونو د ژوندي ساتلو او راتلونکو ته د ویاړ، غرور او اتلولۍ روحیه ورکول دي . دامیر کروړ ویاړنه ، دخوشحال خان خټک رزمونه، د میوند جنګونه او یادونه او یا په دري- فارسي ژبه کې د فردوسي شاهنامه چې له مثبتو اغیزو نه یې په تیره په دري- فارسي ادب کې څوک سترګې نه شي پټولی.

پوښتنه : تاسې د هنر او ادبیاتو په ډګر کې د یو هنرمند، شاعر، او لیکوال تعهد، رسالت، او مسوولیت د یوه ټولنیز شخصیت په توګه څه ډول څیړئ؟

ځواب : شعر له ژوند سره په تړاو کې باید د حقیقت هینداره وي، او شاعر د خپلو خلکو دردونو او ټپونو ته پټۍ او د پټۍ د ایښودلو سالار وي.

پوښتنه : ستاسي په نظر دپښتو ادب لومړنی صوفي شاعر څوک وو او کوم شعرونه يې زمزمه کړي دي؟

ځواب : فکر کوم چې بيټ نيکه دی او مشهور مناجات يې دا دی:

لويه خدايه لويه خدايه – ستا په مينه په هر ځايه

پوښتنه : آيا خوشحال خان ختک هم صوفي شاعري کړې ده او که نه؟ که يې کړې ده په دې اړه په لنډه توګه معلومات راکړئ؟ او د شعرونو ځو بيلګې يې راته وليکئ؟

ځواب : خوشحال خان د خپل ذاتي فطرت له مخې په هر ډګر کې شاعري کړې ده. دی يو صوفي شاعر هم و. د ده د شعرونو دا بيلګې ته ستاسي پام را اړوم:

که مسجد ګوري که دير - واړه يو دي نشته غير

يو مي بيا موند په هر څه کښې - چې مي وکړو د زړه سير

****

او همداسې نور شعرونه.

پوښتنه : د رحمان بابا دشعر، په پرتله د نورو شاعرانو په شعر کې د تصوف رنګ ډير زيات څرګند دی.مهرباني وکړئ په دې اړه په لنډه توګه معلومات راکړئ، او دا راته ووياست، چې د ده په مجازي او حقيقي عشق کې کوم ځانګړي توپيرونه شتوالي لري؟

ځواب : کله انسان له مجازه حقيقت ته رسيږي، خو زه رحمان بابا حقيقي عاشق ګڼم.

دبيلګې په توګه  د ده دا شعرونه ګورو:

که څوک وايي هنر کوم دی؟ وايه دادی -  چې بې خدايه نوره مينه په چا نه کا

****

هيڅ تغير او تبديل نه لري رحمان -  تل تر تله بر قرار دی رب زما

****

دا پنځه ورځې ژوندون چې غنيمت دی ـ شکرانه په دا نعمت دکردګار کړه

****

په هر دم کې نوې نوې تماشی کړم - زه رحمان د خدای وکړه وته حيران يم

****

پوښتنه : ستاسې په آند د پخوانيو او معاصرو شاعرانو شعرونه له عرفاني ، تصوفي او فلسفي انديشو سره څه تړاو لري؟ ويل کيږي چې غني خان يو فلسفي شاعر و . تاسې په دې اړه څه ليد لرئ؟

ځواب : فکر کوم چې د ډيرو شاعرانو په شعرونو کې به فلسفي رنګ وي، خو دا رنګ د غني خان په شعرونو کې ډير ځرګند دی.دغه راز عرفان او تصوفي خوا دی هم لري البته چې دا خوا د ډيرو نورو شاعرانو په شعرونو کې هم شته.

پوښتنه : دا ځرګنده ده چې د هر اثر کرکتنه او نقد ځانته خپل اصول او مقررات لري ، تاسي زموږ د عصر اوسني کره کتني او نقد څه ډول ځيرئ؟ او دا راته ووياست، چې ولې په هيواد کې دننه او بهر دادبي نقدونو په اړه ادبي مرکزونه، چې هلته با صلاحيته ادبي او فرهنګي منتقدين او کره کتونکي موجود وي نه جوړيږي؟

ځواب : بې پرې کره کتنه اړينه ده خو هيله منديم چې په موږ کې بې پرې او بې ريا کره کتونکي پيدا شي.

پوښتنه : په هيواد کې دننه اوبهرپه يو شمير راديويي او تلويزوني خپرونو کې ادبي اوفرهنګي پروګرامونه اوبرنامې خپريږي، د دغو خپرونوپه اړه ستاسي نظرد يو باتجربه کاره ادبي اوفرهنګي شخصيت په توګه، چې د راديو تلويزون سره مو همکاري لرله څه دی؟ او کوم کارنده وړانديزونه په دې برخه کې لرئ؟

ځواب : هره خپرونه په کتلو او اوريدلو ارزي ، بې ګټې ندي.

پوښتنه : دلر او برو پښتنوليکوالو، اديبانواوشاعرانوفعاليتونه، کارنامې او آثار څه ډول ارزوئ؟ اود ګډو هلوځلو او فرهنګي فعاليتونو په تړاو مو ليد څه دی؟

ځواب : د کوزې پښتونخوا د ليکوالو سره ډير په تماس کې نه يم خو زما په آند دلته او هلته چې هر څوک د پښتو ژبې پالنه کوي د قدر وړ دي.

پوښتنه : په لره او بره پښتونخوا او بهرکې يو شمير ادبي اوفرهنګي ټولنې جوړې شوې دي او همدارنګه ادبي ناستې او ادبي غونډې ترسره کيږي اود يوشمير اديبانو، ليکوالو اوشاعرانو کارونه او فعاليتونه ځيرل کيږي. ستاسې پر آند دا کارونه او فعاليتونه د پښتو ادب د پراختيا او پرمختګ لپاره څه اغيز لري؟ او د دغو ټولنو د يووالي اودکارونو او فعاليتونود سمون اوخوځون په اړه څه وړانديزونه لرئ؟

ځواب : دننه او بهر ادبي ناستې او ټولنې ډیرې کټورې دي ، هیله من یم چې په تیره په بهر کې دا دود عام او د کورنیو ټول غړي احتوا کړي چې له خپل کلتور سره بې تړاوه پاتې نه شي.

پوښتنه : تاسې دیوشاعراو لیکوال په توګه زموږ دهیواد د اوسني کړکیچنو او تراژیکو حالاتو اغیز پر ادبي او فرهنګي فعالیتونو څه ډول څیرئ ؟ اونوروشاعرانو او لیکوالوته په دې اړه څه وړاندیزونه لرئ؟

ځواب : په وچو شونډو غوړې خبرې ښې نه ایسي. د حقایقو په رڼا کې باید لیکنې وشي.

پوښتنه : ستاسوپیغام د یوښه لیکوال او تکړه شاعرپه توګه ځوانو لیکوالو او شاعرانوته چې په هیواد کې دننه او بهراوسیږي څه دی؟

ځواب : زما پیغام دوی ته دا دی: افغانستان او افغان ملت ته په پوره وفادارې لیکنې وکړئ، په دې لاره کې مشق او تمرین شرط دی.

ستاسو محترم او قدرمن دوست سرتیر صاحب نه ډیره مننه. تاسې ته بریاوې او بریالیتوبونه غواړم.

په ډیر درنښت او ادبي مینه : انجنیر عبدالقادرمسعود